



عبدالحفیظ « ملیار - سایی »

د نشرنیټه : 22 نوامبر 2026 میلادی

صورت که سیرت!



څنګ چې عقل په زړګي لږ زورور شي
زړګی لاړ شي له سړي نه مرور شي

زړه صورت ،عقل سیرت غواړي عالمه
که د زړه مني نو خاوري دي پر سر شي

دا د زړه منل مثال د ماشو متوب دی
دروند به سپک کړي په مثال د مچ وزر شي

که د عقل چامنلې باور وکړئ
توري خاوري کاڼي بوټي يې سره زر شي

دا منم چې زړه پاچا وي په وجود کې
بې له عقله ژوندون واړه په خطر شي

ستا غزلو کې دردونه شته « ملیاره »
کاش چې عقل او زړه له یو بله خبر شي

***

عبدالحفیظ « ملیار »

www.said-afghani.org- بازگشت به صفحه اصلی

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»